# ماشومانو مقدس کتاب

## وړاندې کونکے

# هغه جینئ چې په دویم ځل ئې ژوند تېر کړو



لیکونکے: Edward Hughes

خیال: Janie Forest
Alastair Paterson

خوښونکے: Ruth Klassen

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries

مددگار: Bible for Children
www.M1914.org

©2025 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصئ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نۀ شئ.



یائیر یو یهودی مذهبی مشر و چې د خدائ عبادت ئې کولو او د خدائ د کلام تعلیم به ئې نورو خلقو ته ورکولو. یوه ورځ په یائیر یو لوئ مصیبت راغلو. د هغۀ ښائسته لور چې صرف د دولسو کالو وه، ناجوړه شوه. داسې ښکارېدل چې هیچا هم د هغې مدد نۀ شو کولے. ځکه چې ډېره سخته ناجوړه وه. یائیر ته معلومه وه چې جینئ مړه کیږی.




صرف یو کس د یائیر د لور مدد کولے شو. یائیر د عیسیٰ
لټولو د پاره لاړ شی او هغه خپل کور ته راولی. یائیر ته
معلومه وی چې د هغهٔ مذهبی ملګری به عیسیٰ نهٔ قبلوی.
خو یائیر یې هیڅ پرواه نهٔ کوی.



هغهٔ ته سمدستی د مدد
ضرورت وو، هسې
نه چې لور یې
مړه شی.

3

یائیر وګوری چې
عیسیٰ د خلقو په
مینځ کښې راګېر
وی. هغه د عیسیٰ
په پښو پرېوځی.
او ورته ووائی،
زما وړه لور
مرګی حال ده.
راشه او خپل لاس
پرې کېږده نو هغه به
ښه شی او ژوندئ به
پاتې شی.




4



عیسیٰ یائیر سره لاړ شی.
خو د ډېرې ګڼې له وجې زر
لاړ نهٔ شی. یوه ښځه چې د
دولسو کالو داسې ناجوړه
وه. ټولو طبیبانو له تلې وه
(او خپلې ټولې پیسې یې
خرچ کړې وه) خو هیڅ فائده
ورته نهٔ ملاو شوې. واه،
هغې ډېر په صبرئ سره
عیسیٰ مسیح لېدل غوښتل.


5



هغه ښځې څهٔ کولے شو؟ هغه ووائی،
کهٔ زهٔ یې صرف چوغې له هم لاس ور وړم
نو ښه به شم. هغه د عیسیٰ مسیح طرف ته
روانه شی. بیا خپل لاس ور اوږد کړی او د
عیسیٰ مسیح چوغې له یې یوسی.


6

یوه معجزه! یوه معجزه! ښځې ته شفا ملاو شی. سمدستی!
په پوره طور! هغې ته معلومه شی چې ښه او صحت منده
شوه. خو بیا یو آواز وشی. عیسیٰ مسیح
تپوس وکړی، دا چا ما له لاس راوړو.
خو کومې ښځې ته چې شفا ملاو
شوې وه نو هغه پوهېده چې هغه
غواړی چې د خپلې شفا په حقله
ورته ووائی. په یرې سره هغه
ښځه ورته د خپل ژوند ټوله
قیصه بیان کړی.



7

هم په دغه دوران کښې د یائیر د کور نه نوکران راشی. د
هغوئ په مخ باندې ډېر خفګان وی. هغوئ یائیر ته ووائی،
ستا لور مړه شوه! هغه مړه شوه!
اوس وخت د لاسو ووتو. کهٔ
چرې هغه ښځې په هغوئ نهٔ
وو ناوخته کړے... نو کېدے
شی چې هغه نه وه مړه
شوې! د یائیر ښائسته لور
مړه شوې وه!



8

چې عیسیٰ مسیح دا واوری نو ووائی. یرېږه مه خو صرف
ایمان وساته. هغه به ښه شی. دا به یائیر د پاره څومره
ګرانه وی چې هغه د عیسیٰ مسیح
په دې خبره یقین وکړی.
ځکه چې لور ئې
مړه شوې وه.



9

په کور کښې ټولو د جینۍ د پاره ژړا او ویر کولو. عیسیٰ
مسیح هغوئ ته ووئیل، هغه خو مړه نۀ ده، بلکه اوده ده.
هغوئ ورپورې خندا وکړی. هغوئ
ته پته وه چې جینۍ
مړه شوې ده.



10

عیسیٰ مسیح ټول بهر وباسی. جینۍ د لاس نه ونیسی او
ورته ووائی، اے جینۍ، راپاسه. یائیر هلته کښې وو. د هغۀ
ښځه هلته وه. د عیسیٰ مسیح درې شاګردان
هلته وو. هغوئ ټولو د عیسیٰ
خبرې اورېدلې. آیا هغه
ماشومې جینۍ هم د هغۀ
خبرې واورېدلې؟



11

مړه جینۍ د
عیسیٰ مسیح
حکم واوری! د
هغې روح
واپس راشی او
هغه سمدستی
راپاڅی. عیسیٰ
مسیح هغه د
مړو نه بیا
راژوندئ کړه.



12

د جینۍ مور پلار حیران شی. عیسیٰ مسیح هغوئ ته ووائی
چې دې له د خوراک د پاره څۀ ورکړئ. هغوئ به څومره
خوشحاله شوی وی، د عیسیٰ مسیح شکریه به ادا کوی. د
هغۀ حیرانونکے قدرت او مینه د هغوئ لور واپس
راژوندئ کړی.



13

هغه جینۍ چې په دوېم ځل ئې ژوند تېر کړو

دَ خدائ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قیصئ

شته دے

مرقوس ۵، لوقا ۸

"ستا دَ خبرو تشریح نُور بخښی ."

زبور 130:119

14

# ختم شو

49 60



دا قیصئ مونږ ته زمونږ د حیرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا
مونږ پیدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپيژنو.

خدائ پوهيږی چې مونږ ډير علط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه ګنا وايي.
د ګنا مزدوی مرګ دے خو خدائ مونږ سره ډيره مينه کوې نو ځکه هغهٔ خپل
يک يو زوئ راوليږلو چې هغه زمونږ د ګناهونو د خاطره سزه وزغمي او په
سولئ خپل ځان قربان کړي.او بيا عيسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته
لاړو. کهٔ تهٔ په عيسی باندې ايمان راوړې او د هغهٔ نه د خپلو ګناهونو بخښنه
غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړي. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به
استوګنه کوی او تهٔ به هغه سره د هميشه د پاره ژوندے اوسيږی.

کهٔ تهٔ په دې ايمان لرې چې دا رښتيا دی نو خدائ ته ووايه.خوږه عيسی زهٔ
ايمان لرم چې هم تهٔ خدائ يې. تا زما د خاطره پيدا شوې او زما د خاطره مړ
شوې او اوس تهٔ د تل د پاره ژوندے يې. زما په ژوند کښې راشه او زما
ګناهونه وبخښه، چې زهٔ هم د نن نه ژوندون ومومم او د هميشه د پاره تاسره يم.
زما مدد وکړه چې زهٔ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ يا لور جوړه شم. آمين
مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، يوحنا۳:۱۲